# داحمد شاه بابا دعلمي ادبي ټولني بنسټيز اصول

داحمدشاه باباعلمي ـ ادبي ټولنه،دټولنيزوبنسټونوپربنسټ د افغانانودزده کړي اودفرهنګ دمينه والودپاره ديوه عيني ضرورت په څيرپه کال ۱۳۷۳هـ ش کی پرانيستل سوې ده.چي دتاريخ په دې پړاو کې دقدروړخدمتونه هم دافغانانو دپاره ترسره کړي دي.اونوربه لاهم خدمت ته په دوامداره توګه ادامه ورکړي.

ددې ټولني دخدمت کولوځای ځانګړی،مشخص،معلوم او معين نه دی، په هرځای کی چی افغانان دمسافرت شپې او ورځي سباکوي،په هم هغه ځای کې ددې ټولني دايجاد ضرورت څرګنديدای سي.

داحمدشاه بابا علمي – ادبي ټولنه يوه خپلواکه ټولنه ده ،په يوه فرد،کورنی،قوم ،قبيله ،سيمه ،مذهب او يوه ګوندپوري تړلې نه ده.بلکي؛دادټولو هغه افغانانو په خد مت ولاړه ټولنه ده چی دهمدغه څلويښت کلنی جګړې په سبب ئې هيواد پرې ايښی دی.اودهيوادڅخه بهردخپل فرهنګ،کلتورڅخه ليري پراته دی.داټولنه اودټولنی غړي ځانونه مجبورګڼي،چی اينده نسلونه په افغاني ،اسلامي دوياړه ډک کلتورباندي باخبره وساتي، څو په اينده کي هم دخپلو هيوادوالودخدمت مصدروګرځي. داحمدشاه باباعلمی ـ ادبی ټولنه دټولنيزپرمخ تګ،اجتماعي تکامل،عمومی پيشرفت پلوی اوملګرې ده.چی دهمدغه روحې سره سم هرډول ارتجاعي عمل دهيوادپه دننه او دهيوادنه بهرغندي.

داحمدشاه بابا علمي – ادبي ټولنه چی يوه فرهنګی ټو لنه ده، دهيواددټولوبافرهنګه،پوهوخلکواودفرهنګ مينوالوته بلنه

ورکوي،چی په نوموړی ټولنه کی ځانونه دخپل توان او استعداد سره سم شامل کي.څو دغه فرهنګی مسؤلیت په ګډه سره تر سره سي.

داحمدشاه باباعلمي ـ ادبي ټولنه دجنسي،نژادي،ژبنیو،مذ هبي اختلافاتواوبرتریوپرضدمبارزه کوی.نوموړې ټولنه بیله تعصب څخه خپل علمی او فرهنګی فعالیتونه مخ په وړاندی بیا ئي. او په نوموړی ټولنه کی داستعداد پر بنسټ هرڅوک دشمول حق تر لاسه کولای سي.

داحمدشاه بابا په علمی ـ ادبي ټولنه کي را هبري دسته جمعي اوټولنیزه ده،چي همیشه ئې پریکړی داوړده بحث څخه وروسته په اکثریت سره فیصله کیږي.

په پریکړوکی بایددجلسې ګډون کونکي بایدطاق وي، څو اکثریت ئې څرګندسي.

په اوسنیو شرایطو کی چی داحمد شاه بابا دعلمي – ادبي ټولني مرکزیت په هالینډ کي دی.دخپلو نورو برخو سره چي دباندي ترهالینډفعالیت کوي،یادهیوادپه دننه کی فرهنګی فعالیتونه سرته رسوي.دهغوی سره ټینګي اړیکی ساتي .او دهرډول همکاریواونژدې اړیکوهیله ئې لري.نوموړې ټو لنه دخپل فرهنګي فعالیت په لړکي نوري فرهنګي ټولني هم دپام څخه نه غورځوي.او دهرډول همکارۍ او اړیکو ملا تړئې کوي.

داحمدشاه بابا علمي – ادبي ټولنه پرلاندي منظمو تشکیلاتوولاړه ده.او هم دغه لاندی مادې خپله کړنلاره ګڼي .

لومړۍ ماده : ددې علمي ادبي ټولنی نوم داحمدشاه بابا دعلمي – ادبی ټولنی په نوم نومول سوی دی.؛داځکه چی احمدشاه باباداففانستان دنوي تاریخ خښته ایښونکی اود

افغانستان دنوم ايښونکی مبتکراو منتخب پاچاه وو.احمدشاه بابانه يوازي مبتکرپاچاه ؤ،بلکي شاعر،دوخت په مروجه علومو پوه او دتوري دميدان ميړنی افغان وو، هيوادپرګران ؤ.

دوهمه ماده:په نوموړې ټولنه کي به دهيوادوالودپاره دفرهنګ ، کلتوراوعلمی زده کړودپاره ترلوړی کچی پوري دتعليمي درجو زمينه برابره کيږي. دلاندي معيارونو پربنسټ .

الف:دښوونې اوروزنې دمعياري تعليمی نصاب پربنسټ به ښوونيزکتابونه دزده کونکو دسوې سره برابر تهيه کيږي .

بې:نوموړې ټولنه دفرهنګ،ښوونې،روزنې مختليف ډيپارټمنټونه پرانيزي،چی هرډيپارټمنټ به دافغانستان دتاريخي،علمي شخصيتونوپه نوم ونومول سي.

جيم:دټولنې دتوان مندۍ په صورت کی به دنشراتو دبرخي (ډيپارټمنټ)يا نشراتي کميسون دخوابه يوه جريده ياورځپاڼه ، مجله دويب پاڼی ترحده خپريږي.اوکه ئې امکان ؤ،دهالينډ دچارواکوڅخه ديوه ياڅوساعته تلويژوني خپرونوغوښتنه هم دپا مه څخه نه غورځوی.

دريمه ماده : داحمدشاه باباپه علمی - ادبی ټولنی کی ترټولو لوړمقام ددې ټولنی دمشرتابه هيئت پريکړی دي.اومشرتابه هيئت غړی به دعمومی غونډې له خواټاکل کيږي.اودټولنی هره پريکړه تصميم به دټولنی ټولوغړوته پرخپل وخت په صادقا نه توګه رسيږي.

څلورمه ماده:دمشرتابه هيئت غونډه به دتاسيس يا بنسټ دورځي څخه وروسته په هروشپږومياشتو کی يو ځل دشرايطو پر بنسټ جوړيږي.

البته نوموړې غونډه دکاردکميټې يااجرائيه کميتي دغړو دټاکلو او دهغوی دکاردجريان دارزيابی دنده اوصلاحيت هم لري.

پنځمه ماده: پسله مشرتابه هيئت دغونډی څخه اجرائيه کميټه دوهم لوړمقام دی چي ددريمي اوڅلورمی مادې دپام کي نيولوسره به دعمومی غوندي يامشرتابه هيئت ددوغونډوتر منځ اجرائيه کميټه پريکړی کوي.البته داجرائيه کميټي صلاحيتونه په لاندي ډول سره توضيح کيدای سي.

الف : مشرتابه هيئت چی څه وخت اجرائيه کميټه انتخاب کړه نو بيا اجرئيه کميټه صلا حيت لري،چي ددو عمومی غونډو تر منځ دواک چاری په لاس کی واخلي.

بې: اجرا ئيه کميټه حداقل پنځه کسه او حد اکثر اووه کسوته رسيږي.

جيم : داجرائيه کميټې هرغړی ديوه کميسون په رأس کي وي او دخپل کميسون رپورټ داجرئيه کميټې وغړو ته وړاندي کوي.

نوټ:ددې کميسون عادي غونډې به په پنځلسو ورځوکي يوځل جوړيږي.کيدای سي چي دلزوم په وخت کي ژرياناوخته هم غونډې جوړي کړل سي.

شپږمه ماده:داحمدشاه بابا دعلمي – ادبي ټولني کميسونونه په لاندي ډول سره دي.

١ – دتبلغاتو او خپرونو کميسون

٢ – دمالياتو کميسون

٣ – داداري چارو دسمون کميسون

٤ – دجلب ا وجذ ب کميسون

۵ – دښوونې او روزې دچارو کميسون

۶ دښځو دانسجام کميسون او کميټه

۷ – دتفتش او نظارت دچارو دسمبا ل کميسون

نوټ:هم دغسې دبهرنيوچارودارېکواړوندمسايل هم دادارې چاروپه کميسون پورې تړلی دي.اوداداري چارومسؤل دټولني منشي اولومړی مرستيال دی.

يادونه : نوموړي کميسونونه دضرورت په وخت کي هم ډيريدای سي او هم کميدای سي.

اومه ماده:داحمدشاه بابا ـ علمي ادبي ټولنه څنګه چی يوه فعاله ،ټولنيزه او خيريه ټولنه ده ،نو با يدپرمالياتي وټيزومرستو ولاړه وي.دمالې کميسون دنده لري، چي دمرستي بهيرپه ډير شفاف ډول وساتي اودلاندی معيارونوپربنسټ مالياتی مرستي ټولی او سمبالي کړي.

الف:مرستی دداوطلبی اوخپلي خوښي پربنسټ تهيه کيږي. اوهغه به د مالي کميسون دحساب ځانګی ته رسول کيږي. همدغسي هرډول عايداومصرف بايد دومره روښانه وي چي دعمومي غونډې اوهيئت ريسه د قناعت وړوګرځي.

بې:څه وخت چي مرستی اونورعايدات نوموړي کميسون ته ورسيدې ، نو بيا ا جرائيه کميټه صلاحيت لري ، چي نوموړی مرستي په وړځای کي مصرف کړي.اوپه حساب دارۍ کي بايد دپيسو راکړه، ورکړه سره برا بره وي.

جيم:تر ډيره حده بايدکوښښ وسي چی نوموړي پيسې ديوه نفرپه شخصي حساب کی ونه ساتل سي،بايدکوښښ وسي چی دټولنی په نوم بانکي حساب پرانيستل سي.په دې شرط

چی ټولنه ددې توان ولري.او که چيري ټولنه په وټيز يا اقتصادي لحاظ ناتوانه وه ؛ نو په دغه صورت کي به هم دحق العضويت او دښوونی اوروزني دغړوڅخه دفيس په ټولولوسره خپل مادی بنسټ حمايه کوي.

اتمه ماده: داحمدشاه بابا دعلمی – ادبي ټولني کړنه ترډيره حده پروړيازحمتونوولاړه ده.اوقرباني ورکول دهيوادوالواودهيواد دفرهنګ دپاره ددې ټولني ترټولو ستر وياړ ګڼل کيږي.دهمدغه روحې پربنسټ قرباني ورکونکوهيوادوالواوانډيوالانوته صلاحيت او مسؤليت ورپه غاړه کيدای سي.اودهمدغه خبری په تائيد دنده ترسره کول ستر وياړ ګڼل کيږي.

نهمه ماده : داحمدشاه باباعلمی ادبی ټولنه ځان مکلف ګڼي چي دنوروافغانانوسره په ګډه دخوشحالۍ ورځي،داستقلال ورځي،مذهبي ورځي اوهمدغسي نوري دخوښۍ اوغم ورځي په ګډه ونمانځي.اودملی شخصيتونودستاينوکليزي ،ګډي غونډي اومشاعرې جوړی کړی څودافغانانو په منځ کی ده ښه پيوستون لاري پيداکړي.اودافغانانوسره دګډکار په نتيجه کی خد متونه تر سره کړي.

لسمه ماده : داحمدشاه بابا علمی ادبي ټولنه چی اوس ئې مرکزپه هالينډ کی دی.ځان مکلف ګڼي چی دامکان ترسرحده وافغانانوته دتفريح،سپورټي لوبوسيرعلمي اونوروعلمی فعاليتو نوزمينه په لاندی توګه برابره کړي.

الف : يوټولنيزدمجلس تالارياځای به دافغانانودمحفلنودپاره اماده کوي.اوپه هغه کی به افغانان خپل درانه عمومي ،ټولنيز فرهنګي اوتفريحی محفلونه لکه؛دمورنۍيواله ورځ،دښوونکی ورځ دنوی کال ورځ،دکاراوکارګرنړيوالي ورځي اوپه ټولنيزډول

هغه ورځي چی دافغانانوپه ژوندکی دارزښت وړدي،دافغاني دوداودستوره سره برابرپر خپل وخت نمانځي اوجوړوي.

يو لسمه ماده:داحمدشاه باباپه علمی – ادبي ټولنه کی دځوانانو دښه تنظيم دپرو ګرامه سره سم دځوانانو دتشويق د پاره دسپورټ لوبي،علمی فعاليت اوکتابونوته دتشويق په خاطر دځوانانودکميسون دلاری ځوانان،ټولنی ته را بلل کيږي.اوځوانانو ته ټينګه پاملرنه دټولنی دمهمو اهدافو له جملي څخه ده.او دهمدغه لاری دځوانانوکميټي ته دنده ورسپارل کيږي،څو ځوانان په افغانی روحيه سره تر بيه او وروزل سي.

پايله

دهيوادخدمت دهرافغان دنده ده چي دخپلوهيوادوالواوهيوادته دخدمت ليځی راونغړي اودهيوادوالو دپا ره په مختليفو برخوکې دخدمت مصدرسي،ځيني کسان په وټيزه يااقتصادي برخه کی کولای سي،چی دهيواددبياآبادولوپه کارونوکي خدمت وکي، ځينی کسان دامنيت او سولي په راوستولو کی دخدمت وړګر ځيدای سي،خو! ځيني دوستان بيا دعلم ،هنر،فرهنګ او دښوونی اوروزنی په به برخه کی خپله ونډه جوته والی سي. يعني هرافغان با يدياپه مادي لحاظ خدمتګارواوسيږي اوياهم په معنوي لحاظ.

دلته ديادولو وړبولم چي يادونه وکړم هيواددافغانانويوګډ کوردی.دهيوادخدمت ديوه نفر،يوې کورنۍ او يوه قوم کارنه دی ، بلکي:داهيواددافغانانو ګډکوردی.اوسمسورتيا ئې دهيوادوالو ګډکاردی.هيوادوال که دافغانستان دشمال،جنوب،شرق يا غرب وی. دټولو ګډټکی افغانستان دی.نودافغان پرنوم بايدسره را ټول سي،په همدغه ترتيب هرافغان دنده لري چي دهيواددښمنان

که په بهرکی وي اوکه په دننه په افغانستان کی وي ،که دپردیولاس پوځي وي اوکه دفساددلاری خیټه وران وي.داد هیوادترټولولوی دښمنان دي. اودهمدغه دښمنانوپرضدملي مبارزه دهرافغان دپاره یوه عمده او مهمه دنده ده،څو هیوادد داخلی او خارجي دښمنانو څخه وساتلاسی.داحمدشاه بابا علمی ادبي ټولنه دنده لری چی په هیوادکی دننه اوبهر داداری فساد،غضب او دبیت مال دچورمخه را ورا وګرځوی.او په دې لاره کی خپرونی وکړي، دخلکو عام ذهنونه روښانه کي.

په اوسنیو ستونزمندو شرایطوکي چي دهیواد یوه لویه برخه منورین دهیوادڅخه بهر په مسافرۍ کي شپې اوورځي تیروي، نسي کولای چی دهمدغه بدوشرایطو څخه ځانونه خلاص کي او هیوادته بیرته ستانه سي.نوپه همدغه دلیل داحمدشاه بابا دعلمي – ادبي ټولني دنده نوره هم دوامداره،درنه او سترې کیدونکې کیږي،چی دهیواداولادونوته په خپله مورنۍ ژبه دزده کړی زمینه برا بره کړي.او دټولني هرغړی افتخار لري چی په همدغه ستونزمندوشرایطوکې  هم هیوادنه دی هیرکړی.او دهمدغه هیوادپالنی پرروحیه ئې همدغه شل کاله دهالینډ په هیوادکي خدمت ته په دوامداره توګه پاملرنه کړې ده اونتیجه کې،په سلهاوافغانان دعلم،فرهنګ او سوادپه برخه کي روزلي دي.چي نوموړی فعالیت یوګټورعمل او دافغانانو دپوره ملاتړ وړ ګرځیدلی دی.

داحمدشاه بابا دعلمی ادبي ټولني مشرتابه کمیټه

پای